مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند
۲۰۲۱/۱۲/۲۹

# نظم

که سل ځلي، صد پاره شوم
که ټوک ـ ټوک اره ـ اره شوم

پرمختګ مخه مي ډب شوه
چا به وې چي هېڅ کاره شوم

که هزار ځلي لوېدلی
نه شوم مات، لا ستاره شوم

خو بریاوې را په برخه
نه مغروره، نه غره شوم

رقیبان دي هر څه وایي
په وفا کي زه کره شوم

ژوند خو ځلي خنډ را پېښ کړ
لکه توره بیا تېره شوم

په هر ځای کي چي ازمون و
مات به نه ومه سره شوم

۲۰۲۱/۰۹/۲۳
هیدرسلیف
ډنمارک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ